# د نسخې خوندیتوب
# او بیااخیستل



## تل د فارمسیست لارښوونې تعقیبوئ.

که چې تاسې خپله نسخه تر لاسه کوئ، نو فارمسیست به تاسې ته د خپلو درملو د خوندي کارولو د څرنګوالي په اړه معلومات درکړي. که چېرې فارمسیست ستاسې په ترجیحي ژبه باندې خبرې کولای نه شي، نو د لاندې جملې په ویلو سره د ژباړن غوښتنه وکړئ: **"No English, I speak Pashto"** یا هم لاندې کارت وکاروئ تر څو خپله ترجیحي ژبه ورته وښایاست.  تاسې کولای شئ د دغه کارت عکس په موبایل کې واخلئ او درسره یې وساتئ.

**زه پښتو خبرې کوم. زه د پښتو ژبې ژباړونکي ته اړتیا لرم.**

**I speak Pashto.**
**I need a Pashto interpreter.**

د درملو په کڅوړه یا د بوتل د نسخې پر لیبل باندې هم د خپلو درملو د خوندي کارولو د څرنګوالي په اړه لارښوونې په انګریزي ژبه لیکل شوي دي. معمولاً د نسخې لیبل لکه دا داسې یو شی ښکاري چې په انګریزي لیکل شوی وي:

LOCAL PHARMACY (800) 555-5555
123 MAIN STREET, ANYTOWN, USA 12345
RX: 1234567-8910 DR. MARTHA JONES
LAYLA AHMADI DATE FILLED 05/11/2017
456 MAIN STREET, ANYTOWN, USA 12345
TAKE 1 TABLET BY MOUTH 2 TIMES A DAY
METFORMIN 500MG
QTY: 60 REFILLS: 3
USE BEFORE 05/11/2018

*دا ستاسې د رجوع لپاره د انګریزي متن ژباړه ده.*

LOCAL PHARMACY (800) 555-5555
123 MAIN STREET, ANYTOWN, USA 12345
RX: 1234567-8910 DR. MARTHA JONES
LAYLA AHMADI DATE FILLED 05/11/2017
456 MAIN STREET, ANYTOWN, USA 12345
TAKE 1 TABLET BY MOUTH 2 TIMES A DAY
METFORMIN 500MG
QTY: 60 REFILLS: 3
USE BEFORE 05/11/2018

## که چېرې بیا د خپلې نسخې اخیستو ته اړتیا لرئ:

که چېرې تاسې تر هغه مقدار چې فارمسیست تاسې ته درکړي له هغه نه زیات مقدار درمل ته اړتیا لرئ، یا هم دا چې ورته درمل هره میاشت کاروئ، نو باید د بلې میاشتې لپاره بیا درمل واخلئ. کله چې مو درمل ختم شول نو تاسې باید بیا درملتون ته ولاړ شئ او هغه بیا واخلئ. تاسې باید د خپلو درملو بوتل له ځان سره یوسئ تر څو یې فارمسیست ته وښایاست چې کوم درمل ته اړتیا لرئ.

ځینې وختونه ډاکتر تاسې ته په محدوده اندازه درمل درکوي. که چېرې تاسې زیاتو درملو ته اړتیا لرئ او د نسخې بیا اخیستل یې نه وي درته تجویز کړي، نو باید له خپل ډاکتر سره یو ځل بیا اپاینټمنټ ونیسئ.

LOCAL PHARMACY (800) 555-5555
123 MAIN STREET, ANYTOWN, USA 12345
RX: 1234567-8910 DR. MARTHA JONES
LAYLA AHMADI DATE FILLED 05/11/2017
456 MAIN STREET, ANYTOWN, USA 12345
TAKE 1 TABLET BY MOUTH 2 TIMES A DAY
METFORMIN 500MG
QTY: 60 REFILLS: 3
USE BEFORE 05/11/2018



NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

# د نسخې خوندیتوب او بیااخیستل

درمل کېدای شي ژوند ژغورونکي واوسي، خو د دې تر څنګ که له لارښوونو سره سم و نه کارول شي، نو کېدای شي **خطرناک** واوسي.

که څه هم زیاتره درمل په بوتلونو کې دي او خلاصول یې هم اسانه کار نه دی، خو بیا هم دا خوندي کار نه دی چې ماشومان له هغو سره ساعتیرې وکړي او ورته لاسرسی ولري.

- هېڅکله د خپلې نسخې درمل له نورو سره مه شریکوئ
- هېڅکله هغه درمل مه کاروئ چې ستاسې لپاره نه وي
- هېڅکله درمل د ماشومانو په اختیار کې مه پرېږدئ
- درمل په ورته هغه قوطیو کې وساتئ چې په کې راغلي وو






که چېرې د درملو د کارولو د څرنګوالي په اړه پوښتنې لرئ، که چېرې کوم کس درمل په ناسمه توګه سره کارولي وي، یا که چېرې کوم ماشوم هغه درمل کارولي وي چې د هغه لپاره نه و، نو کولای شئ د **ذهرو کنټرول ته زنګ ووهئ او 222-1222 (800)** شمېرې ته په زنګ وهلو سره د ورځې او شپې په هر وخت کې له یوه فارمسیست سره خبرې وکړئ.  همداشان تاسې کولای شئ د یوه ژباړونکي غوښتنه وکړئ.

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants